# الماعون

**مکی سورة دی ۷ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴿١﴾

**آیا هغه څوک نه وینې چې حق دین نه مني( او د قیامت د قیام او مکافات او مجازات نه هم) منکر دی؟**

فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ﴿٢﴾

**هغه چې یتیم په بده ژبه رټی،( او په بې رحمۍ سره یې حق ته هم غل دی).**

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿٣﴾

**( پخپله هم خیرښیګڼه نه کوی) او نور خلک هم له غریبانو او بې وزلو سره، مرستې او لاس نیوی ته، نه هڅوی.**

فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ﴿٤﴾

**نو افسوس دی په هغو لمونځ کوونکو.**

ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴿٥﴾

**هغوی چې له خپلو لمونځونو بې پروا دی( په هدف او مقصد یې نه پوهیږی او په آداء کولو کې یې هم ناراستی کوی).**

ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾

**هغوی چې( ښه اعمال یې هم) د ریا او ځان ښودنې لپاره دی( نه د الله تعالی د رضا لپاره).**

وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ﴿٧﴾

**او نه له چا سره کومه کوچنۍ مرسته کوی( او نه زکات او خیرات ورکوی).**

**« تمت سورة الماعون بفضل الله و رحمته»**

=====================